په خونی هاتی سپره شوه می پرسته
زه هم مست هاتی هم مست دی دا هم مسته

خدای د دری واړیو مستا نو سره سر کړ
بله نشته یا به نیست شی یا به هسته

ننداړو لره یی راشئ ننداړچیو
یوه لویه هنګامه شوله پیوسته

چه یی ستا زلفینی کیوتی په لاس کی
لاس یی پریوزه که یی دی پریږدی له دسته

یار د ما ځخه د کور دننه ناست وء
زه بی روحه ګرځیدم د ده په مرسته

نه یاری نه آشنایی واړه لباس دي
چه خبر شوم د وګړی له بربسته

ما په وزیو سترګو ډیر یاران خوړلي
په خیر ځیر دي مخ ته نه ګورم له کسته

د خوشحال په ځان د ډیرو غشي لګ دي
خو هم ده زده چه دی مري د چا له شسته